د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

<u>رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)</u>

**داکتر حیدر رضا د ملګرو ملتونو د ماین پاکی د اداری مشر په افغانستان کی او**

**آغلی نیلاب مبارز د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل- د جولای د میاشتی ۲۱ نیټه کال ۲۰۰۸*

**یوناما:** سهار مو په خیر زما نوم نیلاب مبارز دی زه د یوناما د ویاند له دفتر څخه یم او تاسو ته ښه راغلاست وایم. زموږ سره میلمه ښاغلی داکتر حیدر رضا، د ملګرو ملتونو د ماین پاکی د پروګرام مشر په افغانستان کی دی چی تاسو ته به د تیرو شپږو میاشتو د ماین پاکی د فعالیتونو په اړه معلومات درکړي. خو مخکی له هغی غواړم چی یو څو لنډ رپوټونو تاسو ته وړاندی کړم.

## د نیمروز لشکری د کانال د بیا رغوني لپاره د خوراک او کرني د سازمان مرسته

د لشکری د کانال د بیا رغوني څخه به د ۱۰۰،۰۰۰ څخه زیات کروندګر ګټه واخلي او ۱۵۰۰۰ هکتاره ځمکه به د دغه کانال د لاري اوبه شي. دغه کار د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنـي د سازمان پـه ملاتړ ترسره کیږي. د اوبو دغه نوي آسانتیا به د اوبه خور د لاندې ځمکه د ۱۸۰۰ هکتارو څخه تر ۲۰،۰۰۰ هکتارو پوري لوړه کړي.

دغه کار بـه د راتلونکی کال په لومړیو کي بشپړ شي. د دغه کانال څخه بـه همدارنګه ۱۸۰۰۰ کورني پـه څلورو مهمو کلیو خوبانه، بای ناز، سردشت، مهاجر آباد او نادعلی کی ګټه پورته کړي. د دغو کلیو د خلکو ژوند پـه کرنـي پوري تړلـي دی چي زیاتره یـي د غنمو، اوربشو، مـی، لوبیا، ترکاری، پنبه او د هندواني حاصلات دي.

د ځمکي د سر اوبه هلته د کرني یوازینی منبع ده چي ورڅخه د څښلو او نورو کورنیو اړتیاوو لپاره کار اخیستل کیږي.

## د خوراکي توکو د بیو د لوړوالي له امله د اغیزمن شوو افغانانو سره د نړیوال خوراکي پروګرام له خوا د خوراکي توکو ویش روان دی

د سږ کال د جنوری څخه د خواړو نړیوال پروګرام ۳۳۰۰۰ ټنه خوراکي توکي ۱,۴۶ میلیونو وګړو تـه د افغانستان په ښاري او کلیوالو سیمو کي ویشلي دي.

د یو میلیون په خواوشا کي وګړي" د کار په بدل کي خواړه" په فعالیتونو کي د هیواد په ټولو ولایتونو کي اخته دي.

د دې سربیره ۸۸،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي د جنوری د میاشتي د غوښتني په ترڅ کي د هغو افغانانو لپاره دي چي د خوراکي توکو د لوړو بیو لـه املـه اغیزمن شوي دي چي دا زیاتره غنم او اوړه دي. نړیوال خوراکي پروګرام به د ۱۷۹۰۰۰ ټنه د خوراکي توکو مرستي ۳،۷ میلیونو زیانمنیدونکو افغانانو تـه د ۲۰۰۸ـ ۲۰۰۹ کلونو په موده کي ورسوي.

هغه ګډه غوښتنه چي د ۴۰۴ میلیونو ډالرو لپاره د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو لـه خوا دوه اوونـی تر مخه شوي ده د خواړو نړیوال پروګرام په پلان کي لري چي نږدی ۲۳۰،۰۰۰ ټنـه خوراکي توکي تدارک کړي.

د ۲۰۰۸ کال د جنوری او جون په میاشتو کي د خواړو نړیوال پروګرام ۱۰۳،۰۰۰ ټنـه خوراکي توکي ۵،۳ میلیونو افغانانو ته برابر کړل چي د خواړو مصونیت برابر کړي، په تیره بیا د هغو وګړو لپاره چي د خوراکي توکو په غیر مصونو او لیري پرتو سیمو کي اوسیږي.

نړیوال خوراکي پروګرام همدارنګه ۶۶۰۰۰ هغو وګړو تـه د خواړو بیړنـی مرستي برابـر کړي چي د ساړه ژمی له امله د هیواد په بیلا بیلو برخو کي اغیزمن شوي دي. ټول ټال ۵۸۰۰۰ داخلي بیځایه شوي وګړي چـي په کی د جګړي له امله اغیزمن شوي کسان شامل دي د نړیوال خوراکي پروګرام مرستي په تیره بیا د هیواد په جنوب کي تر لاسه کړي دي.

همدارنګه ۲۷۰۰۰ زیانمنیدونکو راستنیدونکو و ویستل شوو کسانو تـه د ۲۰۰۸ کال په لومړنی نیمایي کـي خوراکي مرستي برابري شوي دي.

## د کډوالو نړیوال سازمان د انسانانو د قاچاق سره د مبارزې د نوې قانون هرکلی کوي

د قاچاق ضد یو نوی قانون نافذ شوی دی چي دا د انسانانو د قاچاق د جرم د سخت عدلی تعقیب او د تولو لپاره د زیات عدالت په لور یو ستر گام دی. په دې برخه کي د افغانستان د اسلامي جمهوریت د حکومت او د کډوالی د نړیوال سازمان تر منځ بریالی همکاري وشوه.

د اختطاف او د انسانانو د قاچاق سره د مبارزې قانون د جولای په ۱۴ نیټه د جمهور رئیس له خوا د ۵۲ گڼي فرمان په توشیح سره نافذ شو.
د کډوالی نړیوال سازمان همدا اوس د نشه یي توکو سره د مبارزې د ظرفیت جوړولو پروگرام د قانون د انفاذ د موسسو د کارکوونکو لپاره پر مخ بیولو.
په دغه پروگرام کي د عدلیي د وزارت د تقنین د ریاست سره د انسانانو د قاچاق ضد د افغانستان د لومړنی قانون دطرحي په برخه کي مرسته شامله ده.

د کډوالو نړیوال سازمان په پام کي لري چي د افغانستان د حکومت او نورو همکارانو سره د نوی قانون په اړه د معلوماتو د خپرولو په برخه کي کار وکړي چي د ذیدخلو او شاملو اړخونو تر منځ د قاچاق ضد نوښتونو د پراختیا په اړوند یو خوځښت رامنځته کړي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د اړخ د میز څخه پښتو، دري او انګلیسی مطبوعاتي پاڼي تر لاسه کړئ.

## په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د ماین پاکی د موسسی د مشر د خبرو ټکي

ښاغلو او آغلو: د پیل د خبرو په حیث زه غواړم په خپل نوبت تاسو ته په دغه غونډه کي هر کلی و وایم او په خاص ډول د یوناما د همکارانو څخه مننه کوم چي زما لپاره یي د خپلو همکارانو سره د ناستي یو فرصت برابر کړ چي تاسو ته د هغو فعالیتونو په باره کي تازه معلومات در کړم، چي په تیرو ۶ میاشتو کي په افغانستان کي د ماینونو په اړوند سر ته رسیدلي دي.
افغانستان له بده مرغه له ۳۰ کلونو جګړو او شخړو له امله د ماینونو او ناچادو توکو زیات شمیر لري. اوس هم له بده مرغه هره میاشت افغانان د ناچاودو توکو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. زه د دی خبری په اعلانولو ډیر خوښ یم چي د افغانستان د حکومت په خاص ډول د ماین پاکولو د ریاست په همکاری نږدې ۳۸،۲۹۷ پرسونل ماینونه، ۴۱۹ ټانک ضد ماینونه را ټول او له منځه وړل شوي دي. پر دې سربیره ۹۵۷،۳۶۲ ناچاودیدونکي توکي چي مرمی، هاوان او نور ناچاوده توکي راغونډ او له منځه وړل شوي دي.

که اوس موږ چیرې ۳۸،۲۹۲ پرسونل ضد ماینونو پرتله ۳۹۰۰۰۰ پرسونل ضد ماینونو سره وکړو کوم چي د تیرو ۱۸ کلونو په ترڅ کي راغونډ شوي، زه د دې کار چي د تیرو ۱۸ کلونو په ترڅ کي ترسره شوي ستاینه کوم، خو د ۱۸ کلونو په ترڅ کي چي کوم کار ترسره شوی دی د تیرو ۶ میاشتو په پرتله ډیر ستر کار دی.
د دي کریډیت زموږ ګرانو ماین پاکانو، د دې هیواد رښتنو زامنو ته ځي، هغوي په ربښتیا زیار باسي ترڅو خپلو خلکو او هیواد ته خدمت وکړي.
د ماین پاکی د فعالیتونو تر څنګ د ماینونو د خطر په هکله د ښووني او روزني فعالیتونه هم د پام وړ دي، د دي کار تر څنګ نږدې ۷۶۰،۴۳۴ ښځو او ماشومانو د ماینونو د خطر او نا چاودو توکو د خطر په هکله روزني تر لاسه کړي دي.
زه هیله کوم دا هڅي دوام ومومي او یا یي کچه یي راټیټه شي او یا حتی له منځه ولاړه شي. زه د یوې خبرې په اړه ډیر خوښ یم، هغه دا ده چي د جون په میاشت کي په لومړی ځل د ماینونو او ناچاودو توکو ۲۴ قربانیان درلودل.
دا هغه څه دی چي زه یي نه شم کولای په راتلونکی وخت کي ضمانت وکړم، چي دا شمیرني به وروسته لوړې نه شي، خدای دې وکړي چي موږ دا شمیرې لا هم راټیټي کړو.
اوس غواړم یوې بلې ټکي ته اشاره وکړم او بیا به ستاسو پوښتنو ته ځوابونه درکړم. موږ یعنی د یوان مکی دفتر د افغانستان د حکومت د ماین پاکولو د دفتر په همکاری یو ځای کار، پلان او عملیات پر مخ بیاوو. د ډسمبر په میاشت کي په یوه سمپوزیم کي او د بیا د روان کال د جنوري په میاشت کي د وزیرانو د کچي د

ارګانونو پر مهال د ناوړه پېښو سره د مبارزې اداري په د ننه کې د ماین پاکولو دفتر ته دنده وسپارل شوه چې د ملګرو ملتونو د ماین پاکولو د دفتر په همکارۍ د ماین پاکولو عملیات پر مخ بوځي.
اوس د روان کال د مې د میاشتې راهیسې د دولت څخه د ماین پاکی همکاران زموږ دفتر راغلي او په منظم ډول په هیواد کې د ماین پاکولو د نورو فعالیتونو د پلان او پلی کولو په چارو کې بوخت دي.
دا هغه څه دي چې موږ یې د همکارانو په توګه هڅه کوو چې خپلې لاس ته راوړنې زیاتې کړو.
زه غواړم چې خپلې خبرې پای ته ورسوم، او کیدای شي یو شمیر پوښتني د یو ان مکا او DMC د همکارۍ په اړه منځ ته راشي.

## پوښتنې او ځوابونه

**بی بی سی:** آیا داسی شمیری شته چې وښایي چې د افغانستان څو فیصده ځمکه په ماینونو ککړه ده او همدارنګه هغه ماینونه چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ایښودل کیږي ستاسو لپاره څه ډول ننګونه ده؟

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکی موسسه:** په دغو ورځو کې زموږ د شمیرې پر اساس د هیواد دوه پر دریمه برخه اوس د ماینونو او ناچاودو توکو دوه پر دریمه برخه پاکه شویده او یوازې یوه پر دریمه برخه پاتې ده. زموږ د شیمرې پر بنسټ لا تر اوسه هم په افغانستان کې ۲۲۶۸ ټولنې په ماینونو او نا چاودو مهماتو ککړې دي. د کومې ټولنې په هکله چې موږ خبری کوو په اټکلي ډول ۴ میلیونه افغانان په کې میشت دي.
د پوښتنې دوهمه برخه د نوي ښخ شوي ماینونو په هکله ده. موږ تر اوسه داسی شیمری او حقایق نه دي تر لاسه کړي چې په هیواد کې د نوي ماینونو په هکله وي. خو موږ په غیر مستقیم ډول کله نا کله داسی رپوټونه تر لاسه کوو چې ځینی خلک د ماینونو او نا چاودو مهماتو قربانیان شویدي او دا په هغو سیمو کې واقع شوي چیرته چې پخوا نه وو شوي. په غیر مستقیم ډول دا دی مانا ده چې نوي ماینونه ایښودل شویدی. خو افغانستان په کال ۲۰۰۲ کې د اوتاوا د تړون سره یو ځای شوي او د ۲۰۰۳ کال د مارچ په لومړي نیټه د هغه اصلی غړیتوب تر لاسه کړ. د اوتاوا د تړون پر بنسټ زموږ په هیواد کې د پرسونل ضد ماینونو کارول، تولید، پلورل او پیرودل او زیرمه کول منع دی.

**د سلام وطندار راديو:** پوښتنه د خوړو د ویشلو او په عمده ډول د کار په مقابل کې د خوړو پروژی په هکله ده. د نوي رپوټونو پر بنسټ په تیرو ورځو کې په غور ولایت کې ۴۰۰۰۰ خلک د خوړو د نه مصونیت سره مخامخ شویدی. د دغو خلکو لپاره نړیوال خوراکی پروګرام څه مرستی په پام کې لري؟

**یوناما:** څرنګه چې ما مخکی وویل نړیوال خوراکی پروګرام په ټول هیواد کې مصیبت ځپلو خلکو ته په پراخ ډول د بیلا بیلو پروګرامونو له لاري په عمده ډول د کار په مقابل کې خواړه، د روزنې په مقابل کې خواړو او د خوړو مرستو په ویشلو دغو بوخت دي. څرنګه چې تاسی خبر یاست د اړینو خلکو لپاره لومړنی غوښتنه د افغانستان د حکومت او ملګری ملتونو له خوا چې د تیر کال په ژمي کې تر سره شوه، د نړیوالی ټولنی له خوا په بشپړ دول تمویل شو او د همدې غوښتنی تر لاندی د مرستو پاتې برخه به د سږ کال د اګست په میاشت کې بشپړ شی. څرنګه چې ما مخکی وویل د خوړو دغه مرسته د نړیوال خوراکی پروګرام له خوا پر مخ روان دی.
دوهمه غوښتنه ۴۰۴ میلیونه امریکایی ډالره ده، دوه اوونۍ مخکی د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو له خوا پیل شوه او دغه غوښتنه به تر یو کال پوري دوام وکړي. د لومړي غوښتنی یوه برخه چې د همدی کال تر اګست میاشت پوري دوام وکړي اوس هم دوام لري. د همدې غوښتنی سره به په میلیونونو وګړي د خوړو د نه مصونیت د ګواښ سره مخامخ دي، تریوښښ لاندی راوستل شی. د غور د ولایت په ډول نور داسی ډیر ولایتونه موجود دي چې زیاتو مرستو ته اړتیا لري. په دي اړه ارزونه تر سره شوي او تمه کیږی چې دغه ولایتونه به د خوراکی مرستو تر پوښښ لاندی راشی.

**د آزادی راډیو:** تاسی وویل چې ۲۲۶۸ ټولنی لا هم په ماینونو ککړ دي. آیا تاسی د دغو سیمو د پاکولو لپاره کوم ځانګړي پروګرام لرئ؟

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکی موسسه:** البته هو. افغانستان دوه تعهدونه لري. یو نړیوال تعهد او بل یی د افغانستان د تړون تعهد دی چې ویل شوي چې د هیواد ۷۰ فیصده چې په ماینونو او ناچاودو مهماتو

ککړ دي او بايد د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر پيله پوری دغی سيمی پاکی شی. د اوتاوا د کنوانسيون په مطابق د ۲۰۱۳ کال د مارچ د مياشتی تر لومړی نيټی پوری، افغانستان بايد د ځمکنی ماينونو او ناچاودو مهماتو څخه پاکه شی. اوس که چيری دا د يوي خوا د معيارونو او مسوليتونو په توګه په نظر کې و نيسو و له بلی خوا د هيواد د ماين پاکولو اړتيا، نو البته بايد موږ، د خپل خلکو د خدمت لپاره، څومره چې ژر کيدای شی بايد د افغانستان د پاکولو لپاره پلانونه او پروګرامونه ولرو. ما به دا ترجيح ورکولوله که چيري دا پوښتنه شوی وای چې په تيرو ۶ مياشتو کې دومره ډيري لاسته راوړنی شويدی. او ما به ځواب ورکول چې موږ د افغانستان د ماين پاکولو په خاطر نوی طريقی پکار اچولی. د موقع سره په ګټی اخيستلو سره غواړم خپل د ملګرو څخه مننه وکړم چې په تيرو ۱۸ کلونو کاری تجربه کې زما افغانی ورونه په دغه ډګر کې د ستاينی وړ کار او زيار ايستلی. بايد خپل بهرنی همکاران هم له ياده و نه باسو- تخنيکی متخصصين او مهارتونه چې زموږ سره کار کوي چې په څه ډول خپل پروګرام موثر کړو. موثر له دی نظره چې څومره ژر کولای شو افغانستان پاک کړو او همدارنګه موثره د مصرف له نظره.

**د بی بی سی نړيوال تلويزيون:** د ماينونو د پاکولو په اړه ستاسو د ښه څخه مننه، خو د بده مرغه موږ په دا تيرو دوو مياشتو کې حتی پرون داسې اوريدلې دي چې په د هيواد په مختلفو ولايتونو کې ملکي کسان وژل شوي دي، چې ټول ټال له ۲۰۰ څخه زياتو ملکي کسانو د هيواد په بيلا بيلو برخو کې خپل ژوند له لاسه ورکړي دی خو موږ هيڅکله د ملګرو ملتونو څخه په تيره بيا له يوناما څخه په دې اړوند څه نه دي اوريدلي، آيا تاسو د دې تلفاتو په اړه خبر ياست او په دې اړه انديښنه لرئ او دا ستاسو په دندو کې راځي او که نه؟

**يوناما:** د ملکيانو خونديتوب او سوکالي پرته له کومي استثنا څخه لومړيتوب لري. ملګري ملتونه تل په دې اړوند روښانه دريځ لري چې د جګړې ټول ښکيل اړخونه بايد د افغانستان او نړيوالو قوانينو درناوي وکړي او دا چې د هغو وګړو د خونديتوب څخه ډاډ تر لاسه شی چی په جګړه کی ښکيل نه دي.
موږ په نړيوالو نظامي ځواکونو باندې خپل دې ټينګار ته ادامه ورکوو، چې د هر ډول هڅو په ترڅ کې د بی ګناه افغانانو ژوند په دې هيواد کې وژغوري
هغه رپوټونه چې د ملکيانو د مرګ ژوبلې په اړه په تيرو څو اونيو کې موږ ليدلې دي دا جوتوي چې ډير ملکي بی ګناه کسان وژل شوي دي او موږ نه غواړو چې دغه شان حالت دوام وکړي.

**د طلوع تلويزيون:** زه غواړم په هغه لاملونو پوه شم چې د تيرو کلونو په پرتله ستاسی د زيات برياليتوب سبب شويدی. همدارنګه تاسی د ماينونو د قربانيانو د کمښت په اړه يادونه وکړه، خو په کومو ځايونو کې چې د حکومت ضد عناصرو له خوا ماينونه اينبودل کيږي، عام وګړي زيانمن کيږي. آيا تاسی دا په نظر کی نيسئ ؟

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماين پاکی موسسه:** يو شی چې زه د يو افغان په صفت په هغه پيل وکړم، هغه دا دی چې زه يوه دنده لرم، زه يو مسوليت لرم او زه کولای شم د خپلو ټولو ملګرو په استازيتوب خبري وکړم. ۸۵۰۰ ماين پاکوونکی، د ماين پاکولو کورنی، موږ ټول يوه دنده لرو او موږ ټول يو مسوليت لرو. موږ ډير خوند اخلو کله چې پوهيږو چې د ورځی په پاي کې مو يو ګټه ور کار تر سره کړی چې زموږ د هيواد او خلکو سره مرسته کوي. په داسی يو ذهنيت سره دا زموږ مسوليت دی چې موږ آماده کوي چې هره دروازه وټکوو او وګور که چيري موږ کولاي شو يوه ښه سپارښتنه تر لاسه کړو، که چيري په تخنيکی ډول خبري و نکړو، په څه ډول خپل کار په موثره توګه او ژر تر سره کړو. خو کله نا کله چې موږ د رسنيو له خوا د ماينونو په هکله اورو، زه غواړم دغه موضوع روښانه کړم او د حقيقی ماين او د تخنيکی تعريف له نظره، او د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو تر منځ تفکيک وکړم. خو په تاسف سره په دغو ورځو کې چې موږ د رسنيو له لاری د ماينونو په هکله خبری اورو، هغه په حقيقت کې ماينونه نه دي، هغه تعبيه شوي چاوديدونکی مواد دي.

**د پژواک خبری آژانس:** آيا د طالبانو تر ولکي لاندې سيمي کې د ماين پاکی چارې پر مخ ځي؟ او بله دا چې د نا امنی له وجهې هغه شاخص چې د ۲۰۱۳ کاله پورې ټاکل شوی دی، نه عملي کيږي؟

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماين پاکی موسسه:** ښه پوښتنه ده. نن صبا امنيت يوه ننګونه ده چې موږ ورسره د هيواد په مختلفو برخو کې مخامخ يو. يوازې په تيرو ۸ مياشتو کې په کندهار کې ۳ او په زابل کې ۲ ماين پاکوونکي له منځه تللی دي او څو مياشتې وړاندې ۶ تنه د بلخ او جوزجان په پوله او ۲ کندز کې وژل شوي دي. دا ماين پاکوونکي او د دې هيواد ريښتونې زامن دي. هغوي د بد نيتی له امله وژل شوی دي. دا هغه

کسان دي چې غواړي دې هیواد ته خدمت وکړي او خپلو کورنیو ته روزي وګټي. خو د بده مرغه هغوي و وژل شوه. دلته د یادوني وړ ده چې د دې بریدونو په پایله کې څو کسان ټپي شوي هم دي.
نو ځکه امنیت د هیواد په ځینو برخو کې له خنډونو سره مخ دی او د دې په نتیجه کې موږ خپل ټیمونه له هغو ځایونو څخه چې نا امنه دي را ایستلي دي، د بیلګې په ډول د کندهار او ځینې نورو برخو څخه، خو موږ ټوله دغه سیمه نه ده پریښې. هغه څه چې موږ هڅه کوو چې د ۲۰۰۸ کال څخه يې وروسته سرته ورسوو هغه دا دي چې د ټولني په کچه د ماین پاکولو چاره پر مخ ولاړه شي، چیرته چې د محلي ټولنو ځوانان به د ۳ میاشتو لپاره وروزل شي او بیا به په خپله ټولنه کې د ماین پاکی چارې ترسره کوي، او موږ هیله من یو چې د ټولنې د مشرانو سره په پوهاوي کې به موږ وکړای شو چې په ټولنه کې د دې انسجام را منځ ته کړو چې زیاته فعاله دنده د ماین پاکوونکو ټیمونو او د هغو د شتمنیو په ساتنه کې ترسره کړي.
ستاسو د پوښتني د دویمي برخي په اړه چې آیا افغانستان به په دې وتوانیږي چې د اوتاوا د کنونسیون ژمني او مسولیتونه ترسره کړي، او خدای دې نه کړي چې که امنیتي حالت د ماین پاکولو ټیمونو ته د خپلې دندني د ترسره کولو امکان ور نه کړي نو دا به ستونزمنه وي چې هغه مهال ویش او شاخص پوره کړای شي.

**روز خبری آژانس:** آیا تاسو کولای شئ موږ ته ووایاست چې د ماین پاکولو په پایله کې څومره ملکي تلفات رامنځ ته شوي دي؟

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ماین پاکی موسسه:** ۳۷۱ پیښې.

**د افغانستان ملی رادیو:** لکه چې تاسو خبر یاست په بغلان کې یو ګڼ شمیر خلکو خپل کورنه د وچکالی او قحطی له امله پرې ایښي دي آیا تاسو د هغوي سره د مرستې څه پلان لرئ؟ زما دوهمه پوښتنه د خواړو د ویش په اړه ده، آیا تاسو دا کار په خپلواکه توګه کوئ او که د حکومت سره په همکاری کې؟

**یوناما:** زه غواړم ستاسو دوهمی پوښتنی ته لومړی ځواب ووایم. هوکی د ملګرو ملتونو ټولي موسسي په افغانستان کې د حکومت سره له نږدی سره کار کوي. کله چې تاسو پوهیږئ د اضطراري حالت سره د غبرګون کمیټي په ولایاتو کې شته، یوناما او د ملګرو ملتونو نوری موسسي د دغو کمیټو غړیتوب لري. په دې توګه دلته د حکومت او د ملګرو ملتونو د موسسو تر منځ همغږي شته چې د اغیزمن کار لپاره زمینه برابروي.
د بغلان د بیځایه شوو وګړو په اړه موږ دمګړی کوم معلومات نه لرو. هغه څه چې زه يې ویلای شم دا دي چې د ټول هیواد په کچه باید د بشري مرستو ارزونه شوی ده. هغه کسان چې په دې اړه کار کوي پوره خبر دي چې چیرته څومره خوراکي توکوته اړ دي.

**ویاند:** تاسو ټولو څخه ډیره مننه.

---